**بسم الله الرحمن الرحيم**

**زموږ مسلمان مشران د الولاء والبراء مخالفه مفکوره لري**




**﴿مَّن يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُن لَّهُ نَصِيبٌ مِّنْهَا وَمَن يَشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَكُن لَّهُ كِفْلٌ مِّنْهَا وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيتًا﴾**

[النساء:۸۵]

*ژباړه: څوک چې د نېکۍ سپارښتنه(شفاعت) وکړي، هغه به له هماغې (نېکۍ) څخه برخه ترلاسه کړي او څوک چې د بدۍ سپارښتنه وکړي هغه به له هماغې(بدۍ) څخه برخه ترلاسه کړي او الله پر هر شي قدرت لرونکی دی.*

هغه ناورین چې په یمن کې رامنځته شوی ټولو ته څرګند دی. د یونېسف سازمان سیمه‌ییز مشر ګیرټ کافیلاري(Geert Cappelaere) د وینا پر بنسټ، یمن د ماشومانو د هستوګنې لپاره دوزخ ګرځېدلی دی. د دې سازمان د اټکل له مخې یمن هغه ځای دی چې نږدې هره ورځ پکې ۱۳۰ ماشومان له لوږې او د ناروغیو له امله ژوند له لاسه ورکوي. هره شېبه د دې شونتیا شته چې حالت د جګړې د شدت او پر بندرونو د بندیزونو د دوام له امله لا کړکېچن شي.

د دې جګړې واقعي قربانیان بې ګناه مسلمان ماشومان، مېرمنې او د ډېر عمر لرونکي کسان دي چې په دې جګړه کې لوږې بیې پرې کوي او دا په داسې حال کې چې دا د دوی خپله جګړه نه ده. دا د لمر په څېر روښانه ده چې دغه د انګلیس او امریکا جګړه ده او د هغو مسلمانو ګوډاګیانو په مرسته یې پر مخ وړي، چې د دوی له خوا ګمارل شوي او نوموړي ګوډاګیان د خپلو بادارانو د ښېلاک لپاره هڅه کوي چې خپلې خاورې او طبعي سرچینې د هغوی په واک کې ورکړي.

ډېر مسلمان هیوادونه د خپلو خاینو مشرانو په مرسته په جګړه کې ښکېل دي او د امریکا په لاربښوونه د سعودي عربستان له لوري دغه روانه جګړه تمویلېږي او سعودي عربستان د دې جګړې ترشا ستر بسپنه ورکونکی هیواد دی. دوی له حوثیانو سره د جګړې په موخه عربي اییتلاف رامنځته کړ. په دې جګړه کې د سعودیانو او هم د حوثیانو د ملاتړ لپاره ډېر مسلمان هیوادونه ښکېل دي، لکه کویټ، متحده امارات، بحرین، مصر، مراکش، اردن، سوډان، ایران او پاکستان.

امریکا خپله په یمن کې ډېر هوایي بریدونه ترسره کړي دي او همدارز یې د سعودي په مشرۍ د عربي اییتلاف د جنګي الوتکو د ملاتړ لپاره د وسلو مرسته کړې، په ځانګړې توګه ۲۲۷ کیلو ګرامه د لاک هېډ مارټین(Lockheed Martin ) له لوري جوړ شوي لیزري بمونه چې له امله یې ۴۰ زده کوونکي د سفر پر مهال ووژل شول. دغه راز د امریکا بحري ځواکونو یو شمېر بېړۍ ولېږلې، چې په دې بېړیو کې لویه جنګي بېړۍ د (USS Boxer) په نامه او دوو نورو وسلوالو جنګي بېړیو شتون درلود. انګلستان او فرانسې هم په خپل وار د دې جګړې د ملاتړ لپاره د وسلو او استخباراتي معلوماتو په برخه کې مرسته کړې.

هغه څه چې هر مسلمان وګړی اندېښمن کوي، دا دی چې په دغې جګړه کې د بې ګناه مسلمانانو ژوند اخیستل کېږي او د لوږې له امله د نورو مسلمانانو په لاسونو د مرګ تر پولې پورې رسېږي او دا ټول هغه څه دي چې د خاینو مسلمانو چارواکو له خوا یې په اړه پرېکړه کېږي. دا هغه چارواکي دي چې د الولی والبرا (نفرت د الله لپاره او محبت د الله لپاره) مفکوره یې هېره کړې.

**«الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْلِمُهُ، وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»**

مسلمان د مسلمان ورور دی، نه پرې ظلم کوي او نه یې دښمن ته سپاري. څوک چې د خپل ورور د اړتیا پوره کولو په هڅه کې وي، الله سبحانه و تعالی به د ده اړتیاوې پوره کړي. څوک چې له مسلمان څخه یوه سختي لرې کړي، الله به د قیامت په ورځ له ده څخه سختۍ ایسته کړي. چا چې د یو مسلمان پر عیب پرده واچوله، الله سبحانه و تعالی به په قیامت کې د ده پر ګناهونو پرده واچوي.

موږ د الولی والبرا (د الله په خاطر د محبت او نفرت) مفکورې مانا د علي رضي الله عنه په تاریخي پېښه کې لیدلی شو. د یوې ځانګړې موضوع په اړه د شام د والي معاویه رضي الله عنه او خلیفه علي رضي الله عنه تر منځ شخړه رامنځته شوه. د روم امپراطورۍ پاچا قیصر په دې پېښه خبر شو او تمه یې درلوده چې له دې پېښې څخه د ځان په ګټه کار واخلي، نو یې معایه رضي الله عنه ته لیک واستاوه:

**د روم له قیصره معاویه ته:**

موږ خبر شوو چې ستا او د علي تر منځ يوه پېښه رامنځته شوې او موږ پوهېږو چې د علي په پرتله ته د خلافت ډېر حقداره يې. که را ته امر کوې؛ نو به پوځ در ولېږم چې د علي سر در ته تقديم کړي.

**د معاويه له لورې هرقل ته ځواب:**

د دوو وروڼو تر منځ جګړه ده او ته څوک يې چې زموږ تر منځ مداخله کوې؟ که چپ نه شوې، نو داسې پوځ به در ولېږم چې پيل به يې تا سره او پای به يې ما سره وي، ترڅو ستا سر را ته راوړي او علي ته يې تقديم کړم.

که څه هم معاويه رضي الله عنه له علي رضي الله عنه سره شخړه درلوده او له ده سره د روم پاچا هرقل د ملاتړ ژمنه وکړه، خو بيا هم دی خپلې اسلامي عقيدې ته او الله سبحانه و تعالی ته ريښتنی پاتې شو. د يو رښتني مسلمان مشر ځواب دا ډول وي، نه د اوسنيو ګوډاګيو مشرانو په څېر چې خپل ځانونه تش د اسلامي خاورو مشران بولي.

الولی والبرا (د الله لپاره محبت او نفرت) مفکوره د اسلام د هغو سترو مفکورو له ډولګې څخه ده، چې هر مسلمان يې په اړه حتمي بايد پوهاوی ولري او خپل زړه ته يې نږدې کړي. په اصل کې د دې مانا دا ده چې يو کس الله سبحانه و تعالی، د هغه پېغمبر او مومنانو ته ريښتنی او وفادار وي، نه کافرانو او د هغوی لارويانو ته. الله سبحانه و تعالی په قران کې فرمايي:

**﴿يا أيها الذين آمنوا لا تتخذوا اليهود والنصارى أولياء بعضهم أولياء بعض ومن يتولهم منكم فإنه منهم إن الله لا يهدي القوم الظالمين﴾**

[المايدة:۵۱]

*ژباړه: اې مومنانو! يهودان او عيسويان خپل دوستان مه نيسئ، دوی په خپلو کې سره دوستان دي. که له تاسو څخه څوک هغوی خپل دوستان ونيسي، نو بيا هغه هم په هغوی کې شمېرل کېږي. پرته له شکه چې الله سبحانه و تعالی ظالمان له خپلې لارښوونې څخه بې برخې کوي.*

څومره ستره اړتيا ده چې امت له خپلو هغو حکامو سره محاسبه وکړي چې هغوی د الله سبحانه و تعالی له رالېږل شوي شريعت پرته د نورو د قوانينو پر بنسټ حکومت کوي. په يمن کې له خپلو وروڼو او خويندو سره يو ځای د خپلو حکامو پر وړاندې بايد ودرېږو، ترڅو وکولی شو خپل وروڼه او خويندې مو د بهرنيانو له دسيسو او ظلمونو څخه وژغورو او په دې لاره کې بايد داسې کلک ګامونه واخلو ان که زموږ د سر په بيه هم وي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**ياسمين ملک**

ژباړن: حمزه خالد